OMB 0970-0278 [تر 31/08/2022 پورې اعتبار لري

**د ماشومانو او کورنيو چارو اداره**
**د کډوالو د بيا مېشتېدو اداره**

# د ګوتې اثر اخيستلو کړنلاره

## د ګوتې اثر اخيستلو لپاره بايد کوم کارونه وکړو؟

1. په دقت سره د معلوماتو خپرولو جواز ولولئ او فورم ډک کړئ.
2. د فکس يا بريښناليک له لارې ډک کړی د معلوماتو خپرولو جواز او د خپل انځور لرونکي آي.ډي کاپي د کيس مدير ته وليږئ. که چېرې نشئ کولای خپل اسناد د فکس يا بريښناليک له لارې وليږئ، نو هيله ده هرڅومره ژر چې ممکن وي د چټک يا لومړيتوب لرونکي پوست له لارې واستوئ.
3. د معلوماتو خپرولو جواز سپارلو وروسته، د کيس مدير تاسو ته د ګوتې اثر يوه جلسه تنظيموي، يا له سايټ سره د اړيکو نيولو معلومات تاسو سره شريکوي څو د ګوتې اثر اخيستلو وخت ورسره وټاکئ. که چېرې تاسې نشئ کولای چې په ټاکلي وخت کې د ګوتې اثر اخيستلو الکټرونيکي مرکز ته سفر وکړئ، نو د خپل کيس مدير سره د خپلې ګوتې کاغذي اثر کارډ دوه نسخې شريک کړئ.
4. د ګوتې اثر اخيستلو مرکز ته د ګوتې اثر ورکولو لپاره په ټاکل شوي وخت کې، مراجعه وکړئ. پام مو وي چې ORR اداره د ګوتې اثر اخيستلو خدمات د ORR په مرکز کې نه وړاندې کوي. د ګوتې اثر اخيستلو خدمات يواځې په هغه ځای کې ترسره کېږي چې له وړاندې تاسو لپاره ټاکل شوی دی.
5. د ګوتې اثر ورکولو وروسته د خپل کيس له اړوند مدير سره اړيکه ونيسئ او ورته ووايئ، چې له تاسو د ګوتې اثر واخيستل شو. د کيس مدير ممکن ستاسو د تېرو کړنو او فعاليتونو د څېړولو لپاره ځينې نورې لارې چارې هم وګوري.

## ايا د ګوتې اثر ورکولو لپاره بايد پيسې ورکړو؟

د ګوتې اثر اخيستلو په ټاکل شوي مرکز کې، هيڅ ډول پيسې نه اخيستل کېږي. که چېرې په ټاکل شوي د ګوتې اثر اخيستو مرکز کې مو د ګوتې اثر نه وي ثبت کړی، نو بيا ممکن له تاسو فيس واخيستل شي.

## څنګه کولای شو د خپلې ګوتې اثر د پخوانيو څېړنو پايله مطالعه کړو؟

د ماشوم کيس مدير ته د غوښتنليک په استولو سره تاسې کولای شئ د FBI د ګوتې اثر پايله مطالعه کړئ. همداراز د لارښوونې لپاره تاسې کولای شئ د ORR اړيکي ملي مرکز سره په دې شمېرې (800)203-7001 يا information@ORRNCC.com بريښنا ليک له لارې اړيکه ونيسئ.

## که چېرې زما د ګوتې اثر پايله غلطه وي او زه يې ونه منم، ايا زه کولای شم ورسره مخالفت وکړم؟

هو. که چېرې سپانسر، د کورنۍ لوی غړی، يا مشر پالوونکی د روزنې او پالنې د طرحې له مخې په دې باور وي چې د FBI پايلې غلطې دي، نو ممکن د معلوماتو کره والی او غير کره والی تر پوښتنې لاندې راولي. سپانسر او يا د کورنۍ لوی غړی کولای شي له اژانس سره اړيکه ونيسي چې شته معلومات په غلط ډول وړاندې شوي دي. د FBI د قضيې په پايلو کې د تغيراتو راړول، په هغه کې د اصلاحاتو راوستل او د نورو اضافي معلوماتو ترلاسه کولو اړوند ټول معلومات د امريکا متحده ايالاتونو فدرال مقرارتو کوډ 28 CFR § 16.34 کې هرڅه واضح بيان شوي دي.

په 1995 کال کې د کاغذي کار کمښت قانون (Pub. L. 104-13) د دې عمومي معلوماتو او راپورونو په اړه د هرې پوښتنې ځواب لپاره په تخميني ډول 1.25 ساعتونه په پام کې نيول شوي دي، چې د کړنلارو ارزول، د اړتيا وړ معلوماتو راټولول او ساتنه او د عمومي معلوماتو څېړل هم پکې شامل دي. يو اژانس ممکن د اطلاعاتو يوه ټولګه هدايت او د هغه ملاتړ ونکړي او يو کس په دې اړ نه دی چې د ټولو معلوماتو په اړه ځواب ووايي مګر دا چې د OMB کنټرول شوې شمېره وړاندې کړي. مهرباني وکړئ د (1) معلوماتو راټولولو لپاره جواز، او دا چې آيا ښکاره کول يې اجباري دي که په خپله خوښه، (2) هغه اصلي موخې چې د معلوماتو څخه د کار اخيستلو لپاره په نظر کې نيول شوې دي، (3) نورې منظم ګټې اخيستنې چې ممکن له معلوماتو څخه وشي، او (4) د غوښتل شويو اطلاعاتو د يوې برخې يا ټولو معلوماتو د نه ورکولو اغيزو په اړه د بحث لپاره د خصوصي حريم ضميمه خبرتيا/د خصوصي حريم قانون بيان وګورئ. که چېرې د دې معلوماتو په اړه کوم نظر لرئ نو مهرباني وکړئ موږ سره اړيکه ونيسئ UCPolicy@acf.hhs.gov.